# د افغانستان راتلونکی خوندي کول: سوله، ځان بساینه او نښلون

## اعلامیه

### سریزه

د افغانستان په اړه د جنیوا کنفرانس چې د افغانستان اسلامي جمهوریت او د ملګرو ملتونو په ګډ کوربه توب ترسره شو ، په کې د ۶۱ هېوادونو او ۳۵ نړیوالو سازمانونو سربیره ، د مدني ټولنې ، خصوصي سکتور او د رسنیو استازو برخه اخیستې وه. د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر محمد اشرف غني او د ملګرو ملتونو سرمنشي مرستیالی آغلي روزیمری ای. یکارلو د دغې غونډې کلیدي ویناوې وړاندې کړې. ددغې غونډې مشري په ګډه د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني ، د مالیې وزیر محمد همایون قیومي او افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو عمومي منشي ځانګړي استازي تدامیچي یاماموتو وکړه او د اجرائیه رییس ښاغلي عبدالله په وینا پای ته ورسیده.

### پېژندنه

۱. د ملي یووالي حکومت (چې تر دې وروسته به حکومت یادیږي) او نړیوالې ټولنې د ۲۰۱۸ کال د نومبر په ۲۷- ۲۸ نېټه په جنیوا کې په ملګرو ملتونو کې سره راغونډ شول تر څو د افغانستان د سولې ، هوساینې او ځان بساینې لپاره سره خپل شراکت او همکاري نوې کړي.

۲. ګډونوالو د افغانستان د لېږد لسیزې ۲۰۱۵- ۲۰۲۴ په منځ کې د هغه پرمختګ یادونه وکړه چې د ځان بساینې په برخه کې یې کړی خو تر څنګ یې ناامني ، بېوزلي او د فساد په ګډون څنې جدي ستونزې په ځای پاتې وبللې. د بدلون لسیزې د پاتې مودې ننګونې د ګډونوالو ګډو او چټکو هڅو ته اړتیا لري. دې موخې ته د رسیدو په پار ، ګډونوالو د دوه اړخیزې حساب ورکونې او د یوه داسې سیاسي ، ټولنیز ، او اقتصادي چاپیریال لپاره چې افغانستان د دې جوګه کوي چې سوله ، امنیت او پایښت لرونکي پرمختیا تقویه کړي ، د حکومت او نړیوالې ټولنې له خوا د دوه ارخیزو توافق شویو ژمنو د پر ځای کولو لپاره پر خپلو ژمنو بیا ټینګار وکړ. د نړیوالې ټولنې د دوامدار ملاتړ لپاره به د حکومت له خوا د خپلو ژمنو پوره کول مهم وي.

۳. ګډونوالو د ټولې سیمې د ګټې لپاره ، د سیاسي ، امنیتي ، اقتصادي ، او ټولنیزو برخو په ګډون ، په ټولو ساحو کې د سیمه ییزې همکارۍ د پیاوړې کولو اړتیا په ډاګه کړه.

۴. د حکومت او نړیوالې ټولنې تر منځ دوه اړخیزه حساب ورکونه د ځان بساینې د ترلاسه کولو لپاره د اصلاحاتو د محتوا او لوری رهبري کوي. کنفرانس تر ځان بساینې لاندې تر دې دمه د هغو پرمختګونو او اصلاحاتو چې د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ له لارې تر لاسه شوي ، او همدارنګه یې د ۲۰۱۷-۲۰۱۸ لپاره د سپارلو وړ فعالیتونو بیاکتنه وکړه. ګډونوالو د سمون په ډېری برخو کې پرمختګ تایید کړ او موافقه یې وکړه چې د ټول شموله اقتصادي ودې ښه کولو ، بېوزلۍ کمولو ، کار موندلو ، د اداري فساد پر وړاندې مبارزه کولو ، د ښځو ځواکمن کولو ، او د حکومتولۍ ، د قانون د واکمنۍ او بشري حقونو د ښه کولو په برخه کې لا هم ډېر کار ته اړتیا لیدل کیږي. د ځان بساینې او دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ ته په کتو ، ګډونوالو د افغان دولت او نړیوالې ټولنې لپاره د ۲۰۱۹-۲۰۲۰ د اصلاحاتو د اندازې وړ موخو او ژمنو سره یو ځای ، د جنیوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې

چوکاټ تایید کړ. د جنیوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ د سپارلو وړ فعالیتونه د افغانستان د سولې او پراختیا د ملي چوکاټ او د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو سره سموي. ګډونوالو د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو پر تطبیق د زیات تمرکز کولو اړتیا تایید کړه ، او ډاډ یې ورکړ چې ددې ګټې به ټولو خلکو ، په ځانګړې توګه هغو ته چې په بې وزلۍ کې ژوند کوي ، ورسېږي.

۵. د کنفرانس په درشل کې ، افغانستان د شپږو معیارونو پر پوره کولو توافق وکړ: ۱) د رڼو ، عادلانه او باوري پارلماني ټاکنو ترسره کول ؛ ۲) د اداري فساد پر وړاندې مبارزه پر مخ وړل ، لکه په فساد کې د ښکېلو کسانو د نیولو حکم صادرول ؛ ۳) د امنیت سکتور اصلاح کول ، په ځانګړې ډول د بایومتریک له لارې د پولیس پرسونل د ثبت بشپړول ؛ ۴) د نړیوال وجهي صندوق (IMF) د معیارونو پوره کول ؛ ۵) د کانونو او د ځمکې د تخصیص د کلیدي قوانینو د تنفیذ له لارې د خصوصي سکتور پرمختیا ته وده ورکول ؛ او ۶) د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو لپاره د تطبیق د پلانونو نهایي کول. ګډونوالو په تیرو شو میاشتو کې د دغو معیارونو اړوند تر سره شوي پرمختګ یادونه وکړه. ګډونوالو د دې اندیښنه څرګنده کړه ، چې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د پر مخ وړلو او د ټاکنو د تخنیکي اجراآتو په اړه معیار په بشپړ ډول نه دی پوره شوی او د دغې مهم اقدام په اړه یې د نوی تمرکز غوښتنه وکړه.

۶. ګډونوالو موافقه وکړه چې د پایښت لرونکې پرمختیا لپاره سوله اړینه ده. ګډونوالو ومنله چې د ۲۰۱۸ کال د فبروري په میاشت کې د حکومت لخوا د سولې وړاندیز په رڼا کې د سولې لپاره یو نوي فرصت رامنځ ته شوی. د حکومت له لوري طالبانو سره له شرط پرته د خبرو کولو وړاندیز سیمه ییزه همکاري پیاوړې کړه ، ملي ، سیمه ییزه او نړیواله اجماع یې غښتلې کړه ، چې د خبر اترو له لارې د شخړې پای ته رسولو لپاره یو بې ساری فرصت رامنځ ته کوي. برخه والو ټینګار وکړ چې سوله باید د جدي هڅو او اصلاحاتو او دغه راز د ټول شموله اقتصادي او ټولنیزو پروګرامونو په مټ راوستل شي. سوله همدارنګه باید د یوې پراخې سیاسي اجماع پر بنسټ وي چې د ټولنې ټولې برخې را نغاړي ؛ او اړتیا ده چې د سولې په پروسه کې د ښځو بشپړ ګډون یقیني شي. بشري حقونو ته درناوی او د قانون واکمني به د تلپاتې سولې فرصتونه پیاوړي کړي. سوله به د ولسي وګړو کړاو پای ته ورسوي او د ودې او سوکالۍ فرصتونه به رامنځ ته کړي. ګډونوالو دا هم ومنله چې سوله د افغانستان او سیمې لپاره د ګټو تر څنګ پیاوړی سیمه ییز اړخ لري ، او تاکید یې وکړ چې د افغانانو تر ملکیت او مشرۍ لاندې د سولې پروسه باید د سیمه ییزو هیوادونو او نړیوالې ټولنې په همغږو شویو هڅو ملاتړ شي.

۷. ګډونوالو د افغانانو په مشرۍ د لومړي ځل لپاره د پارلماني ټاکنو د ترسره کولو هرکلی وکړ چې د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په میاشت کې یې امنیت د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لخوا نیول شوی و ، او هغه خلک یې وستایل چې د تهدیدونو سره سره یې رایه ورکړه. ګډونوالو همدارنګه یادونه وکړه چې تشکیلاتي ، تخنیکي او امنیتي ستونزو رایه اچوونه له خنډونه سره مخ کړه ، د دغو او نورو نیمګړتیاوو د له منځه وړلو پر ارزښت یې ټینګار وکړ ، او د اړتیا په صورت کې یې د قانوني پروسې د پیل کولو غوښتنه وکړه ، تر څو د ټاکنو په مدیریت کې پرمختګ یقیني شي. ګډونوالو په ۲۰۱۹ کال کې د ولسمشریزو او نورو ټاکنو لپاره د موثرو تیاریو غوښتنه وکړه ترڅو اعظمي روڼوالی ، اعتبار ، ګډون ، او امنیت ډاډمن شي.

**سوله**

۸. په افغانستان کې د سولې د ترلاسه کولو په اړه نوی تمرکز رامنځ ته شوی. ګډونوالو د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې پروسې لپاره خپل ژمنتوب په ډاګه او بیا تایید کړ ، څرنګه چې یې د ۲۰۱۸ په فبروري کې د سولې او امنیت د همکارۍ لپاره د

کابل په پروسه کې د یوې عمده ټولنې او وسیلې په څیر یادونه شوې او د تاشکند په کنفرانس کې تایید شوې و. ګډونوالو د همغږۍ د څلور اړخیز ګروپ ،د افغانستان په اړه د تماس د نړیوال ګروپ ،د مسکو فارمت سلامشورې ، د افغانستان د مدني ټولنې د سازمانونو د تماس ګروپ ، د آسیا زړه- استانبول پروسې ، د افغانستان په اړه د بروکسل کنفرانس او نورو اړوندو نوښتونو په ګډون ، د رغندو سیمه ییزو او نړیوالو هڅو یادونه وکړه. ګډونوالو پر دې سربیره ،د افغانستان او د سیمې د علماوو د فعال رول یادونه وکړه او د افغانستان-اندونیزیا-پاکستان د علماوو د درې اړخیز کنفرانس او په افغانستان کې د سولې او امنیت په اړه د علماوو د نړیوال کنفرانس چې د اسلامي همکاریو د سازمان له خوا تنظیم شوی و ، د پایلو هرکلی وکړ. ګډونوالو د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې د هڅو لپاره د همکارانو له خوا د ګډ او همغږي شوي ملاتړ اړتیا په ډاګه کړه. دوی په افغانستان او سیمه کې د سولې ، امنیت او سوکالۍ لپاره د سیاسي پروسې د درناوي ، ملاتړ او ودې لپاره د سیمه ییزو او نړیوالو شریکانو د ژمنې هر کلی وکړ.

۹. ټولو ګډونوالو له طالبانو او نورو مخالفو وسله والو ډلو په کلکه وغوښتل چې د سولې لپاره له دې فرصتونو په ځانګړې ډول د حکومت وړاندیز چې پرته له کوم مخکیني شرط څخه د خبرو غوښتنه کوي ، کټه واخلي.

۱۰. ګډونوالو ومنله چې د جګړې ختمول سیاسي حل ته اړتیا لري او د افغانانو په مشرۍ او مالکیت یې د سولې او پخلاینې ټول شموله پروسې څخه ، چې د افغانستان حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا په کې ساتل شوې وي ، خپله ژمنه بیا تازه کړه. سوله باید په ټولنه کې د یوې پراخې سیاسي اجماع پر بنسټ ولاړه وي ، او د ملي وحدت او ټولنیز یووالي سره مرسته وکړي. دا سیاسي حل باید د تاوتریخوالي له منځه وړل ، د هر ډول نړیوال تروریزم سره اړیکې نه ساتل او د افغانستان اسلامي جمهوریت اساسي قانون ، د ښځو ، ماشومانو او لږکیو په ګډون ، د ټولو حقونوته د نړیوال قانون مطابق درناوی یقیني کړي. ګډونوال موافق وو چې نړیوال ملاتړ به د سیاسي حل په ټینګښت کې مهم رول ولوبوي.

۱۱. ګډونوالو د پایدونکې سولې لپاره د مخکیني شرط په څیر ، د سولې په خبرو اترو ، سوله جوړونې او د شخړې په مخنیوي کې د ښځو د بشپړ او ګټه ور ګډون بنسټیز اهمیت په ډاګه کړ. د ښځو ګډون ته وده ورکوونکې نوښتونه په دې برخه کلیدي رول لري.

۱۲. ګډونوالو ومنله چې د سولې په اړه بحث کې باید ټول وګړي شامل وي. دوي د سولې د مشورتي بورډ جوړیدل چې د افغانستان د خلکو لخوایی د پایښت لرونکي سولې د راوستلو لپاره ملاتړ کیږی ، وستایل. ګډونوالو د خبرو اترو پلاوي د ټاکلو لپاره د حکومت هڅې ومنلې او ترغیب یې کړه چې ټولې خواوې د مذاکراتو لپاره  با صلاحیته او ټول شموله ټیمونه ولري.

۱۳. ګډونوالو ټینګار وکړ چې سوله ، دولت جوړونه او د اصلاحاتو پر بنسټ پراختیا په دوه اړخیز ډول یو بل تقویه کوي چې سوله ، امنیت او ثبات د پانګونې او د پانګې د فرار د مخنیوي په ګډون ، د خصوصي سکتور په مشرۍ د پایښت لرونکي اقتصادي ودې لپاره حیاتي دي او د ځان بساینې لپاره اړین دي.

۱۴. شخړې او له هغې زیږیدونکې ناامني خلک له کورونو بې ځایه کوي ؛ عامه خدمتونه محدودوي ؛ د ښځو او نجونو خوځښت کموي ؛ د پرمختیا لګښت لوړوي ؛ د پانګه اچونې مخنیوی کوي ؛ امنیت ته منابع ځانګړي کوي چې کیدای شوای د دې پر ځای پر پرمختیایی چارو لګول شوې وای ؛ جرمي فعالیتونو لکه د نشه یي توکو تولید ، قاچاق او  د کانونو غیر قانوني کیندنو ته وده ورکوي. له بل پلوه ، پرمختګ او اصلاحات د شخړو لاملونو ته د رسیدګي له لارې د سولې سره مرسته کوي.

۱۵. ګډونوالو موافقه وکړه چې د سولې د ټولنیزو- اقتصادي اړتیاوو په پوره کولو کې به همکاري کوي. د دغې موخې د ترسره کولو لپاره ، ګډونوالو له ډونرانو او پرمختایی او سیمه ییزو همکارانو وغوښتل چې د اقتصادي نوښتونو د یوه پراخ بنسټه پروګرام په ملاتړ کې کوم چې به تر سولې په وروسته دوره کې د افغانستان پانګې په بیرته راستنولو کې مرسته وکړي ؛داخلي او بهرنۍ پانګونه زیاته کړي ؛ کاري فرصتونه رامنځ ته کړي ؛ او سیمه ییز اقتصادي مشارکت پیاوړی کړي ، په بیړني ډول د عمل یو مشخص پلان طرحه او تطبیق کړي چې د بنسټیزو ارزښتونو او موجوده چوکاټونو سره په سمون کې وي.

۱۶. د بشري مرستو کارکوونکو د لوړې کچې مرګ ژوبلې په ګډون ، د ملکي تلفاتو د ریکارډ کچې ته په پام سره ، ګډونوالو په شخړه کې پر ټولو ښکیلو خواوو غږ وکړ چې ملکي وګړي د تاوتریخوالي او جنسي ناوړه ګټه اخیستنې څخه وژغوري ، او له ملکي شیانو لکه ښوونځیو او روغتیایي کلینیکونو څخه د بشرپالنې د نړیوال قانون سره سم ساتنه وکړي. په ورته ډول ، کلیدي عامه زیربناوې باید خوندي شي. ګډونوالو ټینګار وکړ چې د شخړې ټولې خواوې باید د مرستندویه کارکونکو رول او بې پریتوب ته درناوی وکړي.

۱۷. ګډونوالو د نړیوالې سولې او امنیت پر وړاندې د یوه لوی ګواښ په توګه د افغانستان په مختلفو برخو کې د داعش د بریدونو په ګډون د ترهګریزو بریدونو په اړه اندیښنه وښوده ، او د نړیوالو قوانینو په تیره بیا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پریکړه لیکونو له مخې یې د خپلو نړیوالو مکلفیتونو پلي کولو لپاره خپل ملاتړ څرګند کړ. دوی دولت وهڅوه چې د امنیت د تامین په برخه کې خپلې ټولې لازمې هڅې تر سره کړي. ګډونوال د ترهګرۍ د ټولو ډولونو سره د مبارزې لپاره چې د نړیوالې سولې او امنیت لپاره بنسټیز ګواښونه دي ، ژمن پاتې کیږي او ټینګار کوي چې د ترهګریزو کړنو ترسره کوونکو ، تنظیموونکو او یا ملاتړ کوونکو سره به حساب کیږي. پر دې سربیره ، دوي د ملګرو ملتونو د بندیزونو او پریکړه لیکونو سره سم ، د پیسو پریمنځلو ،او د تروریزم د تمویل د هغو په ګډون ،د خپلو نړیوالو مکلفیتونو د بشپړ تطبیق لپاره خپل هوډ په ډاګه کړ.

۱۸. ګډونوالو د افغانستان ملي دفاعی او امنیتي ځواکونو او د آیساف څخه وروسته ماموریت ځواکونو لخوا د نړیوالې سولې او یو با ثباته او سوله ییز افغانستان لپاره د قربانۍ یادونه وکړه ، او د نړیوالې ټولنې لخوا یې د ملي ځواکونو سره د مرستې ستاینه وکړه.

**اصلاحات**

۱۹. ګډونوالو تایید کړه چې حکومت د افغانستان د سولې او پرمختیا د ملي چوکاټ په برخه کې پرمختګ کړی دی او د دې لپاره چمتو دی چې د ملي لومړیتوب لرونکي خپل پروګرامونه عملي کړي. ګډونوال د عالي پرمختیایی شوراګانو د جوړولو هرکلی کوي ، او د ټولو ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو پر موثر تطبیق حساب کوي. ګډونوالو د ۲۰۳۰ اجنډا ته د حکومت د ژمنتیا او د دوامداره پرمختیایي اهدافو د پراختیا په برخه کې د پرمختګ هرکلی وکړ کوم چې د ملي لومړیتوبونو پروګرامونو شاخصونو سره سمون لري.

۲۰. ګډونوالو په امنیتی سکتور کې د احتساب په اړه د تدارکاتو د تدقیق د زیاتولو ، د پرسونل د بایومتریک راجستر کولو ، د بریښنایي معاشونو او د اجراآتو د مدیریت له لارې د اصلاحاتو او چټکو هڅو یادونه وکړه. پداسې حال کې چې ګډونوالو د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا په برخه کې پر خپل ملاتړ بیا تاکید وکړ ، هغوی حکومت وهڅاوه څو له اداري فساد سره مبارزې ته دوام ورکړي ، د بشري حقونو او د قانون حاکمیت ته د درناوي په ګډون د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو مسلکیتوب ته وده ورکړي او همدارنګه په دې برخه کې د ښځو د ګډون زیاتوالي ته پام وکړي.

۲۱. ګډونوالو د ښځو اقتصادي پیاوړتیا د ملي لومړیتوب د پروګرام او همدارنګه د ښځو ، سولې او امنیت په اړه د افغانستان د ملي عمل پلان د پلي کولو په ګډون د ښځو د پیاوړتیا او په دې اړه د ریښتینو فعالیتونو د ترسره کولو او همدارنګه په عامه خدمتونو کې د ډیر شمیر ښځو د ګډون لپاره د دولت د کار ستاینه وکړه ، کوم چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۱۳۲۵ ګڼې پریکړه لیک سره سمون خوري. که څه هم د لاسته راوړنو سره سره ، ډیر څه باید تر سره شي ، څو د ښځو ټولنیزې او اقتصادي اړتیاوې پوره شي او همدارنګه د نجونو او ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي کچه ټیټه شي چې د نړۍ تر ټولو لوړه ده. ګډونوالو د تاوتریخوالي د له منځه وړلو لپاره د ډیرو سختو اقداماتو غوښتنه وکړه څو د تاوتریخوالي عاملین د جزا قانون او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون سره سم عدالت ته راکاږل شي. ګډونوالو همدارنګه د عامه او خصوصي سکتور په ټولو برخو کې د ښځو د رول او ګډون پر اهمیت ټینګار وکړ. دولت باید د ښځو او نجونو د حقونو د خوندیتوب او پیاوړتیا په موخه په ځانګړې توګه د بشپړو زده کړو او د کار حق په برخه کې د پام وړ هڅو ته دوام ورکړي.

۲۲. ګډونوالو د افغانستان په راتلونکي کې له فساد سره د مبارزې پر اهمیت خبرې وکړې. په دې اړه دوي هغو هڅو ته اشاره وکړه چې په لوړه کچه په هیواد کې د فساد لپاره د معافیت د له منځه وړلو لپاره تر سره شوي. دوی د ملکي خدمتونو د سکتور او د ۲۰۱۷ کال د اداري فساد پر وړاندې د اداري اصلا حاتو د ستراتیژۍ هرکلی وکړ ، او د پلي کولو لپاره یې په ملاتړ ټینګار وکړ ، په تیره بیا په: د فساد مخنیوی او له منځه وړل ؛ د غوره اداري همغږۍ رامنځ ته کول ؛ د شفاف او حساب ورکوونکي امنیتي سکتور پیاوړتیا ؛ د ملکي خدمتونو او قضایي سکتور په برخه کې د وړتیا پر بنسټ ګمارنه ؛ د چارواکو د شتمنیو د معلومولو او تایید لپاره د ظرفیت لوړول ؛ معلوماتو ته د لاسرسي د قانون پلي کول او په هره کچه د قضیو څیړل څو خوندیتوب پیاوړی شي. دغه ژمنې د ۲۰۱۸ کال د د جنیوا د دوه اړخیزي حساب ورکونې د چوکاټ په شاخصونو کې شتون لري او د دې ژمنو تر سره کول باید ادامه پیدا کړي. ګډونوالو د اداري فساد پرضد د قضایي مرکز له کړنو څخه یادونه وکړه او د دې اداري په پام وړ پایلو یې رڼا واچوله. د فساد د ټولو قضیو موثر تحقیق او تعقیب یقیني کول د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د لاسته راوړنو او د حکومت په ژمنو د خلکو د باور د رامنځ ته کولو په برخو کې مهم رول لوبوي.

۲۳. نړیوالې ټولنې د بودیجي د بهیرونو د تنظیمولو او د یوې اغیزمنې ، باور وړ او رڼې ملي بودیجې رامنځته کولو او همدارنګه د مالیې د مدیریت د سیستم د پیاوړي کولو هر کلی وکړ. نړیوالې ټولنې د راتلونکو دوامداره عوایدو د زیاتوالي او د کلني مالي خنډونو او همدارنګه د افغانستان د سوداګرۍ د مالي کسر د محدودولو پر ارزښت ټینګار وکړ. د پراختیایي تګلارې سره سم ، د پالیسیو او مقرراتو اصلاحات مهم دي څو د کرنې ، سیمه ییزو اړیکو او استخراج ظرفیت لوړ شي.

۲۴. د خصوصي سکتور پیاوړي کول د دولت د په ځان بساینې د ستراتیژۍ لپاره کلیدي اهمیت لري. ګډونوالو په ۲۰۱۸ کال کې د اصلاحاتو لپاره دولت ته مبارکي ووېله چې سوداګرۍ ته یې وده ورکړې د کوم تصدیق چې د نړیوال بانک د ۲۰۱۹ د سوداګرۍ په رپورټ کې شوې. نړیوالې ټولنې له افغان دولت څخه وغوښتل تر څو له فرصت څخه ګټه پورته کړي او د خصوصي سکتور د پراختیا لپاره د ملي لومړیتوب پروګرام (NPP-PSD) او د افغانستان د ملي صادراتو ستراتیژي (NES) پلي کړي ، په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې د هوایي دهلیز د رامنځته کیدو شاهدان یو.

**پرمختګ**

۲۵. په بروکسل کې د ۲۰۱۶ کنفرانس په دوام ، نړیوالې ټولنې تر ۲۰۲۰ کال پورې د افغانستان د پراختیایي لومړیتوبونو لپاره د ۱۵.۲ میلیارده ډالرو مرستې او د لیږد لسیزې په اوږدو کې یې له تدریجي کموالي سره په ټولنیزو او اقتصادي برخو کې د مستقیم مالي ملاتړ ژمنه وکړه ، په داسې حال کې چې د دوه اړخیز چوکاټ له مخې دولت د خپلو ژمنو پوره کولو ته دوام ورکوي. نړیوالې

ټولنې همدارنګه د مرستو د موثریت په برخه کې د لا پرمختګ په اړه ، او د هغو لومړیتوبونو سره په سمون کې کومو ته چې د افغانستان د سولې او پراختیا ملي چوکاټ ، ملي لومړیتوب پروګرام ، دوامداره پرمختیایي اهدافو (ASDG) او په تیره بیا د پرمختیایي همکاریو ډیالوګ DCD او د افغانستان سره د بودیجې په دننه او د باندې د لا اغیزمنې همغږۍ او مدیریت لپاره د یوه منځني- اوږدمهاله میکامیزم پر سر د سکتور په کچه د روښونو د را منځ ته کولو په برخه کې د دولت د ملاتړ له لارې او په شمول د افغان مالکیت لاندې د پراختیایي اجنډا ملاتړ او که مناسب وي د بودیجې په اړه د مرستو د چینلولو دوام او د دولت سره د ګډې مجموعې د بیاکتنې په اړه په خپلو ژمنو بیاتاکید وکړ.

۲۶. ګډونوالو د سولې ، پراختیا او اقتصادي ودې ، د افغانستان په ځان د بسایني او همدارنګه په سیمه کې د ثبات او هوسایني په برخو کې د سیمه ییزو شریکانو د مهم رول یادونه وکړه. ګډونوالو د سیمه ییزې سوداګرۍ ، ترانزیټ او ترانسپورټ لپاره د وصل د ټکي په توګه د افغانستان د مرکزي رول یادونه وکړه. دوی د افغانستان په اړه د سیمه ییز اقتصادي همکارۍ کنفرانس (RECCA) ، د آسیا زړه — د استانبول بهیر ، SCO, SAARC, ECO او همدارنګه د د اسې نورو سیمه ییزو حرکتونو په ګډون د دولت او سیمه ییزو شریکانو د روانو ژمنو ستاینه وکړه او د سوداګرۍ او ترانزیټ ، له ترهګرۍ او له نشه یي توکو سره د مبارزې په برخو کې یې د دوه اړخیزو او څو اړخیزو میکانیزمونو له لارې پر اغیزو ټینګار وکړ.

۲۷. ګډونوالو د هوایي او ځمکنیو دهلیزونو د رامنځته کولو ستاینه وکړه ، چې نړیوالو مارکیټونو ته د افغانستان د صادراتو اسانتیاوې برابروي ، او همدارنګه د سیمه ییزو پروژو پر لور پرمختګونه [ لکه د تاپي ګازو نل لیکه TAPI ، CASA-1000 ، TUTAP ، TAP 500 ، د لاجورد لار ، د پنځو هیوادونو د ریل پټلۍ ، د خواف — هرات د ریل پټلۍ ، د هند — افغانستان — ایران د سوداګریزې لارې تړون ، او د چابهار د بندر انکشاف او د افغانستان په تړاو کمربند او سړک او همدارنګه د ډیجیټل اړیکو پروژې مهم پرمختګونه دي چې په سیمه کې د ژورو همکاریو لپاره لار هواروي.

۲۸. ګډونوالو د پراختیا د اجنډا په اړه د دولت د مالکیت او مشرۍ د زیاتیدو ستاینه او د اصلاحاتو د څار د میکانیزمونو د پیاوړتیا هڅونه وکړه او همدارنګه د مرستندویه ټولنې د همغږۍ په ګډون یې د ملګرو ملتونو د دوامداره ملاتړغږ وکړ. ګډونوالو همدارنګه له دولت سره د ملګرو ملتونو د مرستو په کلیدي رول ټینګار وکړ چې په هیواد کې سوله او پرمختګ رامنځته کړي.

۲۹. ګډونوالو د مدني ټولنې او بې پرې رسنیو د مهم رول یادونه وکړه چې په هیواد کې یې تر سره کوي ، او په دې کنفرانس کې یې دهغوی د برخې اخیستنې هر کلی وکړ. دوی د مدني ټولنې د تلفاتو د لوړې کچې په اړه ژوره اندیښنه څرګنده کړه چې د جګړې له امله د مدني ټولنې فعالینو او رسنیو ته اوښتي ، او همدارنګه د دوی پر خوندیتوب او محکمې ته د تاوتریخوالیو د عاملینو پر راکاږلو یې ټینګار وکړ. ګډونوالو د دولت پر کړنو د څار د زمینې د برابرولو په ګډون د بیان ازادۍ په ملاتړ ، معلوماتو ته د لاسرسي قانون په بشپړ پلي کیدو او همدارنګه په سیاسي بهیر کې د مدني ټولنې د رول پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

۳۰. ګډونوالو د اندیښنې په څرګندولو سره د غربت او د بېکارۍ د ډیریدلو یادونه وکړه ، چې پر ډیری ځوانانو یې ناوړه اغیزه کړې او د نفوسو د چټک زیاتوالي سره لا زیات شوي دي. د بېوزلۍ د کچې د زیاتیدو لاملونه کیدای شي د بهرنیو ځواکونو د وتلو وروسته له ۲۰۰۳ کال راهیسې د اقتصادي ودې د کچې ټیټوالی ، د ناامنیو زیاتوالی ، د ټولنیز امنیت کمښت ، کمزوري اساسي خدمتونه ، بېکاري ، د کډوالو بیرته راستنیدنه او کورنۍ بېځایه کیدنه او وچکالي وي. ګډونوالو د ستونزو پر حل ټینګار وکړ: د فامیلي پلاننګ په ګډون د نفوسو د چټک زیاتوالي مخنیوی ؛ د بشري سرمایې د ودې اهمیت ؛ او ځوانان چې د افغانستان د ودې لارې پرانیزي.

۳۱. په تیرو دوه لسیزو کې په یو شمیر ټولنیزو شاخصونو کې د پرمختګونو سره سره ، لکه د متوقع عمر ، سواد ، په ښوونځیو کې شمولیت او دوام ، په تیره بیا د نجونو ، د مور او ماشوم د مړینې کچه او د معافیت په ګډون ، په تیرو کلونو کې یواځې لږ پرمختګونه تر سره شوي دي. ګډونوالو د امنیت د ښه والي پر اهمیت ټینګار وکړ څو نویو پانګه اچونو ته زمینه برابره شي ، په تیره بیا د بهرینو پانګه اچوونکو په ملاتړ د ښوونې او روزنې ، روغتیا او کورونو جوړولو په برخو کې. د اساسي خدمتونو وړاندې کول باید د "هیڅ څوک شاته مه پرېږدئ" د اصل سره سم ، ښه والی ومومي او د هیواد په کچه باید ګړندي شي او د ښځو او معلولیت لرونکو وګړو په ګډون باید د خلکو بیلابیلې اړتیاوې پوره کړي. د ماشومانو د خوارځواکۍ او ښوونې او روزنې موضوع ته باید ځانګړې پاملرنه وشي او ډاډ ترلاسه شي چې ښوونه او روزنه عزتمن کار ته د لاسرسي لامل کیږي. ګډونوالو په طالبانو غږ وکړ څو په خپلو ژمنو عمل وکړي او د نجونو د ښوونې او روزنې نړیوال حق ته درناوی وکړي.

۳۲. ګډونوالو د نړیوالو ژمنو او تعهداتو سره په سمون کې د بې ځایه شویو داخلي کسانو او کډوالو د وضعیت او همدارنګه د بې قانونه پناه غوښتونکو د ستونزو د بیړني حل یادونه وکړه. د رضاکارانه او خوندي بیرته راستنیدو او په ټولنه کې د بیا یوځای کیدو لپاره د حکومت هڅې د سولې او ثبات بنسټیز عناصر دي. ګډونوالو د دولت د راستنیدنې او د ټولنې سره د یو ځای کیدلو د پالیسیو او پلانونو ستاینه وکړه ، او همدارنګه یې د هغو د بیړنې تطبیق غوښتنه وکړه. ګډونوالو په تیرو څلورو لسیزو کې د کوربه هیوادونو ، په تیره بیا د ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان سخاوتمندانه ملاتړ وستایه. ګډنوالو یادونه وکړه: د کډوالو په اړه نړیوال تړون ، د افغان کډوالو لپاره د حل سیمه ییزه ستراتیژي او د خوندي ، مرتب او منظم مهاجرت لپاره نړیوال تړون او د سیمې د هیوادونو لپاره د دې اړتیا څو د هغو کسانو لپاره چې په خوځښت او حرکت کې دي د هغوی د اړتیاوو د حل په موخه د جامع او رظاکارانه چوکاټونو را منځ ته کول. ګډونوالو د مهاجرت د جریان او د مهاجرت د اغیزمن مدیریت په اړه د څو اړخیزو او سیمه ییزو بهیرونو او تړونونو او "د مهاجرینو د موضوعاتو په اړه ګډ لاری په ګډون" خبرې وکړې.

۳۳. د غیر قانوني اقتصاد یوه برخه ، په تیره بیا د مخدره توکو تولید او دهغه اړوند سوداګري د ۲۰۱۶ کال راهیسې د پام وړ زیاته شوې چې جګړه مخ ته بیایي او ترهګري تمویلوي ، د قانون حاکمیت اغیزمنوي ، فساد ته لمن وهي او په هیواد او نورو سیمو کې د خلکو روغتیا ننګوي. ګډونوالو په نشه یې توکو کې د کمیاوي موادو او پر نورو دارو ګانو د بندیز ، په نړیواله او ملي کچه د نشه یي توکو د تقاضا کمول ، د لیږد رالیږد لارو بندولو او مخنیوي ، درملنې او د زیان د کچې د ټیټوالي په ګډون د نشه یي توکو پر وړاندې د اغیزمنو ګامونو پورته کولو اړتیا په ډاګه کړه. ګډونوالو د افغانستان د نشه یې توکو پر وړاندې مبارزې ملي پلان د پلي کیدو ، د سیمه ییزې همکارۍ د میکانیزم او همدارنګه پر نشه یي توکو د بندیز ، د نشه یي توکو د تمویل دمخنیوي او د پیسو د مینځلو ستونزو د حل له مخې د فرامرزي جرمونو او مخدره توکو تر منځ د اړیکې د ستونځې د حل په موخه د هڅو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ کومو چې د سیمې امنیت او پرمختګ له خنډ سره مخ کړی]. د دې تر څنګ دولت له نړیوالې ټولنې وغوښتل چې خپل ګډ کار ته ادامه ورکړي څو له دې ستونزې سره د ملي او نړیوال غبرګون له مخې مبارزه وشي.

۳۴. مخ پر زیاتیدو وچکالي ، په تیره د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې د خوراکي توکو د کموالي لامل شوې کوم چې له درې میلیونو څخه زیات کسان یې د خوراکي توکو له شدید کموالي سره مخ کړي ، د ډیرو کسانو د بیځایه کیدو لامل شوې او د اقلیمي بدلون پر وړاندې د هیواد زیانمنونکی حالت بیانوي. ګډونوالو له لوږې سره د خلکو د مخ کیدو او د دوی د بیځایه کیدو په ګډون د وچکالۍ د لنډ مهاله اغیزو او ستونځو دحل ژمنه وکړه ، او همدارنګه له دولت سره یې د اوږدمهاله ستراتیژۍ جوړولو هوډ وکړ ، په تیره بیا د کرنې په برخه کې ، څو د اقتصادي ، ټولنیزو او اقلیمي ستونزو د مخ کیدو پر مهال ستونزې حل کړای شي.

۳۵. دې بیلابیلو ننګونو ته د حل پیدا کولو په موخه ، ګډونوالو د اغیزمنتوب د ملاتړ په حیث ، د پروګرام د موثریت او سولې په ګډون د بشردوستانه او پراختیایي اړیکو اهمیت په ډاګه کړ.

**پایله**

۳۶. په داسې حال کې چې د لیږد لسیزې نیمایي رارسیږي ، په ځان د بسایني لور ته د پام وړ ګامونه اخیستل شوي دي.  په جنیوا کې ګډونوالو د مالي چارو مدیریت د ښه والي او دملي بودیجې د تنظیم په ګډون د پرمختګونو دهغه رپوټ هرکلی وکړ چې د دولت له لورې د بروکسل د ۲۰۱۶ کال کنفرانس راهیسې تر لاسه شوي ؛ پاتې ننګونې یې وارزولې ؛ او د لازیاتو هڅو غوښتنه یې وکړه تر څو له فساد او نا قانونه مخدره توکو سره مبارزه وشي او همدارنګه سوله ، ثبات او د قانون حاکمیت پیاوړي شي. ګډونوالو هوکړه وکړه څو د هغو پالیسیو ملاتړ وکړي چې سیمه ییزه اقتصادي همکاري او اړیکې پیاوړې کوي. د بې پرې خپلواکو متخصصینو په ګډون د اصلاحاتو روڼ او اغیزمن څار به دوه اړخیزه حسابولي لا زیاته پیاوړې کړي.

۳۷. د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر کې د پارلماني ټاکنو تر سره کول د ډموکراسۍ د تحکیم په برخه کې یو مهم ګام و ، چې دافغانستان خلکو یې له ډیرې مودې راهیسې انتظار کاوه. ولسمشریزې ټاکنې چې ټاکل شوې ، د ۲۰۱۹ کال د اپریل په میاشت کې تر سره شي ، باید د تجربو پر بنسټ د بشپړې روڼتیا ، اعتبار او هر اړخیزې پروسې له مخې د ټولو خلکو په ګډه وي.

۳۸. لومړنۍ ستره ننګونه د سولې نه شتون دی ، چې سږ کال دولت په دې برخه کې د پام وړ او مهم ګامونه پورته کړي. ګډونوالو په ټولو ښکیلو اړخونو غږ وکړ چې د افغانانو غوښتنو ته د رسیدو د یواځینۍ شونې لارې په توګه د جګړې د پای ته رسیدو په موخه د افغانانو په مالکیت او مشرۍ د سولې د پروسې له دغه فرصت څخه ګټه پورته کړي ، کوم چې د اوږدمهال اقتصادي ودې او هوسا راتلونکې لپاره یو فرصت دی.

۳۹. دولت او نړیواله ټولنه د ملګرو ملتونو د جنیوا کنفرانس د کوربه توب ستاینه کوي. ګډونوال د ۲۰۱۹ کال د لوړ پوړو چارواکو غونډې او د ۲۰۲۰ کال د وزیرانو کنفرانس ته سترګې په لار دي ، چیرته چې د افغانستان د دولت د بالمقابل اصلاحاتو د اجنډا او د جنیوا د دوه اړخیزې حسابولۍ چوکاټ په رڼا کې د افغانستان د اوږد مهاله پرمختګ لپاره به پر راتلونکو ژمنو خبرې اترې وشي.

**د اعلامیې پای**